رسالہ نمبر: 01

تذکرہ امام احمد رضا رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیہ

شیخِ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامی، حضرت علّامہ مولانا ابوبلال

محمد الیاس عطار قادری رضوی دامت برکاتہم العالیہ

مکتبۃ المدینہ
(دعوتِ اسلامی)
MC1286

تذکره امام احمد رضا

دارساله شیخ طریقت امیراهل سنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه په اردو ژبه کښې لیکلی . مجلس تراجم دعوت اسلامی په پښتو ژبه کښې دهغې ترجمه وړاندې کړې ده.که چرته ترجمه یا کمپوزنګ کښې در ته څه کمی بیشی ښکاره شي نو مجلس تراجم دعوت اسلامی ته اطلاع وکړې او ثواب حا صل کړې-

پته: مکتبة المدینه(دعوت اسلامی)
فیضان مدینه محله سوداګران زړه
سبزی منډی باب المدینه کراچی
ټلیفون: +92-21-34921389 to 91
translation@dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

دکتا ب لوستلو دعا

دینی کتاب یا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لا ندې دعا ولولی اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ کوم څه چه و لولی نو هغه به مو یادپاتې کیږی:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَیْنَا حِکْمَتَكَ وَانْشُرْ
عَلَیْنَا رَحْمَتَكَ یَـا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِکْرَام

ترجمعه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه دعلم او حکمت دروازې کولاو کړه او په مونږه خپل رحمت نازل کړه! اے دعظمت او بزرګی واله!

(المستطرف ج۱ص۴۰ دارالفکر بیروت)

(نوټ اول او آخر کښې یو یو ځل دُرود شریف ولولی)

فهرست

تذکره امام احمد رضا

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

تذکرہ امام احمد رضا

شيطان که ډيره هم درباندی سستی راولی خو دثواب په نيت داد ۲۰پاڼورساله پوره ولولی اودنيا اوآخرت کاميابی حاصله کړی:

ددُرودشريف فضيلت

رحمت عالم، رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے، خوک چه په ماندی درود پاک اوواي ځه به دهغه شفاعت کوم- (القول البديع ص ۲۶۱ موسسةالريان بيروت)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

پيدا يش بابرکت

زماآقااعلی حضرت امام اهلسنت حضرت علامه مولاناالحاج الحافظ القاری امام احمد رضاخان عَلَيْهِ رَحْمَةُ الرَّحْمٰن پيدايش بابرکت دبريلی شريف په محله جسولی کښ په ۱۰شوال المکرم ۱۲۷۲ دهفتی په ورځ ماسپښين بمطابق ۱۴جون ۱۸۵۶ء کښ وشودسن پيدايش اعتبارسره دهغوی نوم المختار (۱۲۷۲) دے. (حيات اعلی حضرت ج ۱، ص ۵۸ مکتبة المدينه باب المدينه کراچی)

فرمان مصطفی ﷺ: دچا په خوا کښ چه زما ذکر وشی او هغه په ما درود پاک ونه ویلو بی وفا ي وکړه. (عبدالرزاق)

داعلی حضرت سن پیدایش

زما آقا اعلی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه خپل سن لادت د۲۸سیپاری سورة مجادله آیت نمبر۲۲نه راوستلی دے ددی آیت کریمه علمِ ابجد اعتبار سره ۱۲۷۲ عدد دی. دهجری کال حساب سره هم دا دپیدایش کال دے. دمکتبة المدینه چاپ شوی. کتاب ملفوظات اعلی حضرت صفحه۴۱۰ باندی دی دپیدایش دتاریخونوذکروونو اعلی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه اوفرمایل بحمدِ الله زما دپیدایش تاریخ پدی آیت کښ دے-

اُولٰٓىِٕكَ كَتَبَ فِیْ قُلُوْبِهِمُ الْاِیْمَانَ وَ اَیَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ ؕ

ترجمه کنزالایمان: **داهغه دی دچا په زړه کښ چه الله ایمان لیکیلے او دخپل طرف نه روح سره ددوی مدد کړے.** (پ ۲۸ المجادله: ۲۲)

دهغوی نوم مبارک محمد دے نیکه به ورته احمدرضاسره آوازکولو او هم دِنوم سره مشهورشولو-

حیرت انګیزبچپن

عام طوردهری زمانی دماشومانوهم داشان حال وی لکه چه نن سبادماشومانودےاُوه (۷) اته (۸) کالو پوری دخه خبری هوش نری اونه دخبری په مطلب پوهیږی مګرد اعلی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه ماشوم والی هم ډیراهم ووپه کم عمری کښ دهوش مندی اودقوت حافظه دا عالم وو چه په څلور نیم کاله وړکوالی عمرکښ قرآن مجید په نا ظره ختم کړو دشپږو کالوووچه دربیع الاول په میاشت کښ په ممبر باندی دمیلادالنبی

فرمان مصطفی ﷺ: دچا په خوا کښ چه زما ذکر وشی او هغه په ما درود پاک ونه ویلو هغه په خلقو کښ ډیر کنجوس دی- (ترغیب وترهیب)

صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په موضوع ډیری لوی اجتماع ته پر مغز تقریرکولوسره دعلمای کرامو اومشایخ عظامو شاباش حاصل کړو: هم پدی عمر کښ دبغداد طرف معلوم کړو اوتر آخر عمر پوری دغوث اعظم ښارطرف ته پښی نوی غرولی دلمونځ سره ې ډیرعشق وو پنځه وخته لمونځ بې په جمات کښ د تکبیر اولی سره په جمه کولو.کله به چه کومه ښځه مخی له ورغله نو سترګی اوسر بې ښکته کړو ګویه دسنت مصطفی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم. پدوی غلبه وه چه دهغی اظهار په بارګاه رسالت سلام پیش کولو سره څه داسی کوی-

نیچی آنکھوں کی شرم و حیا پر دُورَ ود
اُنچی بینی کی رِفعت پہ لاکھوں سلام

دښکتة سترګو په شرم وحیادُرود
داوچت نظر په رفعت لکونو سلام

اعلی حضرت هلک والی کښ دومره تقوی دار ووچه روان به وونود قدمونو آواز به ی هم نه اوریدل کیدو داُووکالو (۷) وو چه درمضان المبرک روژی نیول ې شروع کړې. (دیبا چه فتاوی رضویه ج۳۰ص۱۶)

دماشوم والی یوه قصه

جناب سید ایوب شاه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه صاحب ..فرمای په ماشوم والی کښ به ددوی کورته یو مولوی صاحب دقرآن مجید خودالودپاره راتلودیوورځ خبره ده چه مولوی صاحب دکوم آیت یو لفظ بیا بیا ورخودلو خو ددوی

فرمان مصطفی ﷺ: دچا په خوا کښ چه زما ذکر وشی او هغه په ما درود پاک ونه ویلو بی وفا ي وکړه. (عبدالرزاق)

رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه په ژبه به هغ لفظ نه راتلو هغه به زبرخودلو او دوی به زیر ویلو دا حالت چه ددوی نیکه حضرت رضا علی خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه ولیدو نو دوی ئے خوا ته راطلب کړو او قرآن مجید ي راوغوښتلو نوچه ئے وکتل نو کا تب غلطی سره دزیر په ځاي زبر لیکلي وو یعنی کوم لفظ چه داعلی حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه د ژبی نه وتلو هغه صحیح وو ددو ی نیکه تپوس وکړو بچیه څنګه چه مولوی صاحب ویلو هغسی تا ولی نه ویلو عرض ئے وکړو ما به اراده وکړه خو په ژبه می نه راتلواعلی حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه پخپله فرماي چه زما استاد دچا نه چه ما ابتدای کتابو نه ویل کله به چه استاد ما ته سبق وویلو نو یو دوه ځل کتو سره به می کتاب بند کړو خو چه کله به می ورته سبق اورولو نو حرف بحرف لفظ بلفظ به می اورولو روزانه دِ حالت کتلو سره استاد ډیر حیران شو یو ورځ ئے رانه تپوس وکړو احمده دا راته اووایه چه ته انسان ئے که پیرئے ځکه چه زما په خودلو وخت لګی او تاته په یادولو دومره وخت نه لګی ما ورته وویل دالله شکر دے انسان یم خو دالله فضل او کرم راسره دے (حیات اعلی حضرت ج۱ص۶۸) دالله دِ په هغوی رحمت وی دهغوی په صدقه دِ زمونږه بې حسابه مغفرت وی۔

آمِیۡن بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِیۡن صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اولنی فتوی

زما آقا اعلی حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه صرف ددیارلسو(۱۳) کالو لسو(۱۰) میاشتو او څلور (۴) ورځو عمرکښ ټول مروجه علوم دخپل پلار ریس

فرمان مصطفی ﷺ: دچا په خوا کښ چه زما ذکر وشی او هغه په ما درود پاک ونه ویلو هغه په خلقو کښ ډیر کنجوس دی- (ترغیب وترهیب)

المتکلمین مولانا نقی علی خان رَحۡمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه نه حاصل کړل او سند فراغت ئے ترلاسه کړو او هم په دغه ورځ ئے دیو سوال په جواب کښ اولنی فتوی ولیکله فتوی چه صحیح او موندله نو پلار ورته مسند دافتا حواله کړو او تر آخر وخته پورې بې فتوې لیکلې (ایضاً ص۲۷۹) دالله دِپه هغوی رحمت وی او دهغوی په صدقه دِ زمونږه بې حسابه مغفرت وی.

آمِیۡن بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِیۡن صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

داعلی حضرت ریا ضی دانی

الله تعالی اعلی حضرت رَحۡمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه ته ډیر علوم ورکړی وو دوی کم وبیش په پنځوسو علومو قلم اوچت کړے دے او ډیر قیمتی کتابو نه ي لیکلی دی دوی ته هر فن باندی کافی عبور حاصل وو .علم تو قیت کښ ورته دومره کمال حاصل وو چه دورځی به ي نور ته وکتل او دشپې سپوږمی ته نو ټایم بې صحیح معلومه ولودیومنټ فرق به هم نه وو په علم ریاضی کښ هم ډیر ماهر وو دعیلګړیو نیورسټی وایس چانسلر ډاکټر ضیاءالدین چه غیر ملکی ډګریانی او تمغی ي حاصلی کړی وی ددوی خدمت کښ حاضرشو دریاضی یو مسلی تپوس دپاره دوی ورته وویل خه مسله ده هغه ورته وویل داسی مسله نده چه دومره آسانی سره بیان کړم اعلی حضرت رَحۡمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه ورته وویل خه لګه خو بیان کړه نو هغه سوال وویلو نو اعلی حضرت رَحۡمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه تسلی بخش جواب ورکړو هغه ډیر حیرانتیا سره وویل چه دِ مسلی دپاره خوځه

فرمان مصطفی ﷺ: دچا په خوا کښ چه زما ذکر وشی او هغه په ما درود پاک ونه ویلو بی وفا ې وکړه. (عبدالرزاق)

جرمن ته تلم خو اتفاقاً زمونږ ددنیاتو پرو فیسر مولانا سید سلیمان اشرف صاحب راته ستاسو په باره کښ راهنمای وکړه او ځه دلته حاضر شوم داسی ښکاریده لکه چه تاسو کتاب ته ګوری ډاکټر صاحب ډیری خوشحالی سره واپس شو اوددوی دشخصیت نه دومره متاثره شو چه ګیره ې پریخوده اود لمونځ روژی پابندشو (ایضاً ۲۲۳،۲۲۹) دالله د هغوی رحمت وی او دهغوی په صدقه دِزمونږه بې حسابه مغفرت وی.

آمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ددی نه علاوه اعلی حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په علم تکسیر ،علم هیت،علم جعفر وغیره باندی هم ښه پوهیدو .

حیرت انګیز قُوَّتِ حافِظه

حضرت ابو حامد سید محمد محدث کچھوچھوی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرماې کله چه په دارالافتا کښ دکار کولو په غرض ځه بریلی شریف کښ وم شپه ورځ به څه داسی واقعی مخی ته راتلې چه د اعلی حضرت حاضر جوابې به خلق حیرانه ول هغه حیرانه ونکی واقعاتو نه هغه علمی حاضر جوابی هم ده چه دهغی مثال به هم چا نوی اوریدلے مثلاً یو سوال راغلے دارلافتاکښ کار کونکو ولوستو داخی معلومیده چه څه نوی معامله وه او جواب به دجُزیی په شکل کښ میلاونه شی نودفقهایکرام داصول عامه نه استنباط کول غواړی (یعنی دفقهائے کرامودخودلی شوی اصولو نه مسله راوستلے شی) نو داعلی حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه خدمت کښ حاضرشو او عرض ئے وکړو څه عجیبه نوی نوی سوالونه راځی مونږ کومه طریقه خپله

کړو؟ هغه ورته اوفرمایل داخو ډیر زوړ سوال دے ابن همام د فتح القدیر په فلانکی صفحه کښ او ابن عابدین دردالمختار په فلان جلد فلانکی صفحه کښ لیکلی دی فتاوی هندیه کښ خیریه کښ داعبارت صفاصفا موجود دے چه کتابونه مو کولاو کړو نو صفحه کړښه اوخودلی شوے عبارت کښ دیو ټکی فرق هم نوو دِفضل و کمال خداوندی علمائے حیران کړل (حیات اعلی حضرت ج۱ص۲۱۰) دالله دِپه هغوی رحمت وی اودهغوی په صدقه دِ زمونږ بې حسابه مغفرت وی.

آمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

کس طرح اِتنے علم کے دریا بہا دیئے
عُلَمائے حق کی عقل تو حیراں ہے آج بھی

څنګه ئے دعلم دریابو نه روان کړل
دعلمائے حق عقلونه نن هم حیران دی

صرف یو میاشت کښ حفظ قرآن

جناب سیدایوب علی شاه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه صاحب بیان دے چه یوورځ اعلی حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه اوفرمایل څنی نا بلد کسان زما نوم سره حافظ لیکی حالانکه څه ددی لقب اهل نه یم سید ایوب علی صاحب رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه واېِ هم ددغه ورځی نه ئے دور شروع کړو چه دهغی وخت غالباً دماسخو تن داودس نه تر دجمعی ودریدو پوری وو هره ورځ بې یوه سیپاره یادوله ترڊِ چه دیرشو(۳۰) ورځو کښ دیرش(۳۰) سیپاری یادی کړی په یو موقعه کښ

فرمان مصطفی ﷺ: دچا په خوا کښ چه زما ذکر وشی او هغه په ما درود پاک ونه ویلو بی وفاې وکړه. (عبدالرزاق)

اوفرما یل قرآن می په ترتیب باندی کوشش سره ځکه یادکړو چه بندګان خدا (څوک چه زما نوم سره حافظ لکی) وینا غلطه نشی (ایضاً ص۲۰۸) دالله دِپه هغوی رحمت وی اودهغوی په صدقه دِ زمونږه بې حسابه مغفرت وی.

آمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

عشق رسول ﷺ

زما آقا اعلی حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د سر نه تر پښوپوری د عشق مصطفی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نمونه وو دهغوی نعتیه دیوان ،حدایق بخشش، ددی خبری ګواه دے ددوی دقلم دنوکی نه بلکه دزړه دکومی نه وتی هره مصرعه دمصطفی جان رحمت صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره دوی په بې پناه عقیدت او محبت ګوهی ورکوی دوی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه کله هم دکوم د دنیاوی تاجدار په خوشامد کښ قصیده نده لیکلی ځکه چه دوی دحضور تاجدار رسالت صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اطاعت او غلامی دزړه نه قبوله کړی وه او دیکښ کمال او مرتبی ته رسیدلی وو دهغی اظهار دوی په یو شعر کښ څه داسی کوی.

انہیں جانا انہیں مانا نہ رکھا غیر سے کام
لِلّٰهِ الْحَمْد میں دنیا سے مسلمان گیا

هغه می پیژندلے او هغه می منلی نشته می دبل چاسره کار
لِلهِ الحمد څه ددنیا نه مسلمان لاړم

فرمان مصطفی ﷺ: دچا په خوا کښې چه زما ذکر وشی او هغه په ما درود پاک ونه ویلو هغه په خلقو کښې ډیر کنجوس دی۔ (ترغیب وترهیب)

دحاکمانودخوشامدی نه ځان ساتل

یو ځل دریاست نان پاره (ضلع بهرایچ یو پی هند) دنواب په تعریف کښې شاعرانو قصیدی لیکلی چا دوی رَحۡمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه ته هم وویلی چه تا سو هم دنواب صیب په مدحه کښې یوه قصیده ولیکی دوی رَحۡمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه دهغی په جواب کښې یو نعت شریف ولیکه چه دهغی مطلع داده.

وہ کمالِ حسنِ حضور ہے کہ گمانِ نقص، جہاں نہیں
یہی پھول خار سے دور ہے یہی شمع ہے کہ دھواں نہیں

شرح کلام رضا: یعنی زما دآقا محبوب رب ذوالجلال صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښایست دکمال درجی ته رسیدلی؟؟ یعنی کامل او مکمل دی په هغه کښې څه خا می نشی موندل کیدی دخامی تصور هم نشی کیدی دهر ګل په څانګه کښې اغزی وی مګر دآمنه د باغ داځانله خوشبودار ګل صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داغزونه پاک دی او دهری شمعی دا عیب وې چه لوګی کوی مګر دبزم رسالت داسی روښا نه شمعَه ده چه دلوګی یعنی دهر عیب نه پاکه ده

او په مقطع کښې د نان پاره بندش ځومره نازکه اشاری سره کوی.

کروں مدح اہلِ دُوَل رضاؔ پڑے اس بلا میں مِری بلا
میں گدا ہوں اپنے کریم کا مِرا دین "پارہ ناں" نہیں

شرح کلام رضا: څه ددولتمندو صفت ولی وکړم ځه خو دخپل آقا کریم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د در فقیریم زما دین پاره نان ندی دنان معنی ده

فرمان مصطفی ﷺ: دچا په خوا کښې چه زما ذکر وشي او هغه په ما درود پاک ونه ویلو بې وفا ي وکړه. (عبدالرزاق)

روتې او دپاره معنی ده ټکړه مطالب دا چه زما دین دروتې ټکړه خونده چه دمالدارو خوشامدي وکړم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

په ویخه دیدار مصطفی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

زما آقا اعلی حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه چه کله په دویم ځل حج دپا ره لاړو نو مدینې منوری کښې دنبی رحمت صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دزیارت تمنا په زړه کښې نیولی دروضی پاکی مخی ته ډېر وخته پوری صلوة وسلام ویل خو په اوله شپه قسمت کښې دا سعادت نه وو نو پدغه وخت کښې خپل مشهور نعتیه غزل ولیکه چه دهغی مطلع کښې درحمت لمنی سره دنزدیکت اُمیدښکاری.

وہ سُوئے لالہ زار پھرتے ہیں
تیرے دن اے بہار پھرتے ہیں

شرح کلام رضا: ای سپرلیه خوشحاله شه په تا دسپرلو سپرلی راتلونکې دی. دمدینی تاجدار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دګلعزار طرف ته راتلونکې دی!

او په مقطع کښې په بارګاه رسالت کښې دخپلی عاجزي او مسکنی نقشه څه داسی پیش کوی.

کوئی کیوں پوچھے تیری بات رضاؔ
تجھ سے شَیدا ہزار پھرتے ہیں

(اعلی حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په دويمه مصرع کښ د عاجزۍ په توګه دځان دپاره دسپی لفظ استعمال کړی مګر دلته ادباً شيدا ليکل شوی دی)

شرح کلام رضا: پدی مقطع کښ عاشق رسالت اعلی حضرت دډيری عاجزۍ اظهار کوی او دځان سره واۍ اے احمد رضا ته او ستا حقيقت به څه وی ستا پشان په زرګونو سګان دمدينی په کوڅو کښ ګرځی! دا غزل ئے پيش کړو او دديدار په انتظار ادب سره کيناستو نو قسمت ئے را ويخ شو او دسر په سترګو ې په ويخه ديدار مصطفی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وکړو. (ايضاً ص٩٢) (دالله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوی رحمت وی او دهغوی په صدقه دِ زمونږ بې حسابه مغفرت وی.

آمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

سُبْحٰنَ اللّٰــه عَزَّوَجَلَّ! قربان د داسی سترګونه چه په ويخه ديدارِ رسالت مآب صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوی ولی به نه کوی چه دهغوی زړه دعشق رسول صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ډک وو او هغوی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د فنا فی الرّسول په منصب باندی وو دهغوی دا نعتيه کلام. پدی خبره ګواه دے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

دهغوی دسيرت يو څوجلکيانی

زما آقا اعلی حضرت فرماۍ که چا زما زړه دوه ټکړکړو نو په يو باندی به لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ او په بل باندی به مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ (صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لکلی وی. (سوانح امام احمد رضا ص٩٦مکتبه نوريه رضويه سکهر)

فرمان مصطفی ﷺ: دچا په خوا کښې چه زما ذکر وشی او هغه په ما درود پاک ونه ویلو بی وفا ي وکړه. (عبدالرزاق)

شهزاده اعلی حضرت مفتی اعظم هند مولانا مصطفی رضا خان عَلَیۡہِ رَحۡمَۃُ الۡحَنَّانِ په سامان بخشش کښې فرماي.

خدا ایک پر ہو تو اِک پر محمد
اگر قلب اپنا دو پارہ کروں میں

دمشایخ زمانه په نظر کښې دوی واقعی فنافی الرسول وو اکثر په جوداي دمصطفی کښې غمجن وو اسویلی بې کول دپیشه ور ګستاخانو عبارتونو کتو سره به ې دستر ګو اُوښکی بهیدی ا و دخوږ مصطفی په حمایت کښې بې دګستاخانو سختی سره رد کولو ددِی دپاره چه هغوی په غصه کښې ماته بدرد ویل او لیکل شروع کړی او هغوی به اکثر پدی فخر کولو چه باری تعالی پدی دور کښې دناموس رسا لت دپاره ډال جوړکړے یم طریقه داستعمال می داسی ده چه څه ددغه بد ویونکو رد سختی اوسختو الفاظو سره کوم داسی هغوی ماته په بد ردویلو کښې مصروف شی او تردغی وخت پو ری د آقا دوجهان پشان کښې دګستا خی نه منعی شی .په حدایق بخشش کښې فرما ي:

کروں تیرے نام پہ جاں فدِا نہ بس ایک جاں دوجہاں فدا
دوجہاں سے بھی نہیں جی بھرا کروں کیا کروڑوں جہاں نہیں

غریبانان بې خالی لاس نه واپس کول همیشه بې دغریبانانو مدد کولو بلکه په آخری وخت کښې هم خپلو خپلوانو ته وصیت کړی وو چه دغریبانانو خاص خیال ساتې ښه ښه خوراکونه دخپل کور نه ورکوی اوکوم یو غریب کله هم ونه رټې دوی رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ به اکثر په تصنیف او تالیف کښې

فرمان مصطفی ﷺ: دچا په خوا کښ چه زما ذکر وشی او هغه په ما درود پاک ونه ویلو هغه په خلقو کښ ډیر کنجوس دی- (ترغیب وترهیب)

لګیاوو .پنځه وخته به جمات کښ حاضروو او همیشه بې لمونځ دجمعی سره کولو دوی رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیۡه به خوراک ډیر کم کولو

دمیلاد په دوران کښ دناستی انداز

زما آقا اعلی حضرت امام احمد رضا خان به محفل میلادشریف کښ دذکر ولادت شریف په وخت دصلوۃ وسلام ویلو دپاره ودریدلو باقی به اول نه تر آخره پورې ادباً په دقعدی پشکل ناست وو هم داشان بې بیان هم کولو خلور پنځه ګنټې به په ممبر شریف په قعده ناست وو (ایضاً۱۱۹ حیات اعلی حضرت ج۱ص۹۸) کاش! چه مونږ غلامان اعلی حضرت ته هم دتلاوت قرآن ویلو یا اوریدلو په وخت او داجتماع ذکرو نعت دسنتو نه ډک اجتماعات ،مدنی مذاکری، درس او مدنی حلقو وغیره کښ ادباً په قعده دکیناستلو سعادت حاصل شی.

داُوده کیدو ځانګړی انداز

داوده کیدو په وخت بې غټه ګوته دشهادت په ګوته کیخودله ددی دپا ره چه لفظ الله ترنه جوړشی داوده کیدو په وخت بې پښی کله هم نه غزولی بلکه په ښی اړخ به سملاسته او دواړه لاسو نه بې دسر نه لاندی کیخودل اوښښی مبارکی بې راغونډولی هم داشان به ترنه لفظ محمد جوړشو. (حیات اعلی حضرت ج۱ص۹۹وغیره) دادی دالله غوښتونکو اود رسول پاک درښتو نی عاشقانو اداګانی.

فرمان مصطفی ﷺ: دچا په خوا کښې چه زما ذکر وشي او هغه په ما درود پاک ونه ويلو بې وفا ي وکړه. (عبدالرزاق)

نامِ خدا ہے ہاتھ میں نامِ نبی ہے ذات میں
مُہرِ غلامی ہے پڑی، لکھے ہوئے ہیں نام دو

دالله نوم په لاس کښې دنبی نوم په ذات کښې
مهرِ غلامی دې پروت ليکل شوی دوه نومونه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

ريل ګاړی ودرولې شوے وو

جناب سيد ايوب شاه صاحب فرماي زما آقا اعلی حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه يوځل دپيلی بِهيت نه بريلی شريف ته دريل په ذريعه راتلو په لاره کښې دنواب ګنج په استيشن په کوم ځای کښې چه ګاوي صرف دوه منټه دپاره ودريږی دما ښام وخت وودوی د ګاړی ودريدو سره سمدستی تکبير اقا مت وکړو او په ګاړی کښې دنن نيت وتاړه غالباً پنځه کسانوپسی اقتدا وکړه او ددوی نه يو ځه هم وم خو ځه لا جمعه کښې شامل شوے نه وم چه نظر مې په غير مسلم ګارډ شو په فليټ فارم ولاړو او شنه جنډا ئے خوزَ وله ما چه کړکی کښې و کتل نو لاين کلير وو تاو ګاړے تلو واله وو مګر ګاړے روان نشو حضور اعلی حضرت ښه اطمنان بغير دځه پريشانی دری واړه فرض ادا کړو او څنګه چي ښی طرف ته سلام واړو نو ګاړے روان شو مقنديانو بې اختياره د خُلی سُبْحٰنَ اللّٰـه ، سُبْحٰنَ اللّٰـه ، سُبْحٰنَ اللّٰـه اووتو پدی کرامت کښې قابل غور خبره داده که جمعه په پليټ فارم ولاړه وی نو دا ويلې شو چه ګارډ به ديوبزرګ هستی ليدلو سره ګاړے ودرولی وے داسی نوه بلکه لمونځ ې په ګا ړی کښې ادا کړی وو .پدی لګ وخت کښې

ګارډ ته خه پته ولګیده چه دالله یو محبوب بنده فرض لمونځ په ګاړی کښ ادا کوی (ایضاً ج۳ص۱۸۹،۱۹۰) دالله د په هغوی رحمت وی او دهغوی په صدقه د زمونږبې حسابه مغفرت وی.

آمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

وہ کہ اُس در کا ہوا خلقِ خدا اُس کی ہوئی

وہ کہ اُس در سے پھرا اللّٰہ اُس سے پھر گیا

ترجعه: څوک چه دهغه ددر شو خلق خدا دهغه شو

څوک چه دهغه ددر نه اوړی خداې دهغه نه اوړی

شرح کلام رضا: کوم څوک چه دسرکا رنامدار دمدینی دتاجدار تابعدار وی نو مخلوق پرور دګار دهغه تعبدار شی او څو ک چه دحضورپرنور ددربانه لری شو نو درب غفور ددر نه هم لری شو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

تصانیف

زما آقا اعلی حضرت په مختلفو عُنواناتو کم و زیات زر کتابو نه لیکلی دی داسې خو به هغوی ۱۲۸۶نه۱۳۴۰پوری په لکونو فتوې ورکړی وی لیکن افسوس چه ټولی ندی نقل کړې شوی کومې چه نقل شوی دی دهغې نوم اَلْعَطَايَا النَّبَوِيَّه فِي الْفَتَاوَى الرَّضَوِيَّه ایخودلی شوی دی. فتاوی رضویه (مخرجه) ۳۰ جلدونه دی او ټولی پاڼری۲۱۶۵۶، ټول سوالونه جوابونه ۶۸۴۷ او ټولی

رسالی ۲۰۶ دی. (فتاوی رضویه مخرجه ج ۳۰ ص ۱۰ رضا فاونډیش مرکز الاولیاء لاهور) په قرآن وحدیث فقه منطق او کلام وغیره کښ ددوی دوسعت نظری اندازه ددوی دفتاوی مطالعه سره کیږی ځکه چه دوی په هره فتوی کښ ددلایلو سمندر روان وی ددوی داُوه رسالو نومونه دادی:

(۱) سُبۡحٰنَ السُّبُّوۡح عَنۡ عَیۡبِ کِذۡبٍ مَقۡبُوۡح په ربښتونی خدای باندی ددروغو بهتان تړونکوپه رد کښ دا رساله لیکلی. دی دمخالفینو ملا ماته کړې او قلم پچوړکړې (۲)مَقَامِعُ الۡحَدِیۡد (۳)اَلۡاَمۡنُ وَالۡعُلٰی (۴)تَجَلِّی الۡیَقِیۡن (۵)اَلۡکَوۡکَبَةُ الشِّهَابِیَّة (۶)سَلُّ السُّیُوۡفِ الۡهِنۡدِیَّة (۷)حَیَاتُ الۡمَوَات.

علم کا چشمہ ہُوا ہے موج زَن تحریر میں
جب قلم تُو نے اٹھایا اے امام احمد رضا

دعلم چینه شوله روانه په لیک کښ
کله چه تا قلم اوچت کړو اے امام

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

دقرآن کریم ترجمه

زما آقا اعلی حضرت دقرآن کریم ترجمعه کړې چه مو جوده تراجم کښ دټولو نه غوره ده دترجمعی نوم کنزالایمان دی پدې ددوی خلیفه حضرت صدرالافاضل مولانا محمد نعیم الدین مراد آبادی دخزاین العرفان او مفسر شهیرحکیم الامت حضرت مفتی احمد یار خان دنور العرفان نوم سره حاشیه لیکلی ده.

فرمان مصطفی ﷺ: دچا په خوا کښ چه زما ذکر وشي او هغه په ما درود پاک ونه ويلو هغه په خلقو کښ ډير کنجوس دی۔ (ترغيب وترهيب)

وفات حسرت آيات

اعلی حضرت د خپل وفات نه ۴ مياشتی او ۲۲ ورځی مخکی پخپله دخپل وفات خبر ورکړیوو د۲۹ سيپارېسورة دهر آيت ۱۵ نې دخپل دفات کال وستالی وودی آيت کريمه دعلم ابجد حساب سره ۱۳۴۰ عددجوړيږی او هم دا هجری کال اعتبارسره دوفات کال دی.

وَيُطَافُ عَلَيۡهِمۡ بِاٰنِيَةٍ مِّنۡ فِضَّةٍ وَّاَكۡوَابٍ

ترجمعه کنزالايمان: او پدوی به دسپينو زرودلوښو اود کوزو دور وی.

(سوانح امام احمد رضا ص۳۸۴)

۲۵صفرالمظفر ۱۳۴۰ مطابق ۲۸ اکتوبر ۱۹۲۱ په ورځ دجمعی دهندوسان په وخت۲ بجی ۳۸ منټ (دپاکستان په وخت۲ بجی ۸ منټه دجمعی دآذان په وخت اعلی حضرت علامه مولانا الحفظ القاری امام احمد رضاخان داعی اجل ته لبيک اويلو.

اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَيۡهِ رٰجِعُوۡنَ ۝

ددوی مزار پر انوار موينة المرشد بريلی شريف کښ زيارت گاه دخاص دعام ده. دالله دپه هغوی رحمت وی او دهغوی په صدقه دزمونږه بې حسابه مغفرت وی.

آمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

تم کیا گئے کہ رونق چلی گئی
شعر وادب کی زلف پریشاں ہے آج بھی

ته څه لاړي چه رونق دمحفل هم لاړو
دشعروادب زلفی نن هم ګډې وډې دی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

په دربار رسالت کښې انتظار

۲۵صفرالمظفر۱۳۴۰ بيت المقدس کښې يوشامی بزرګ خوب کښې خپل ځان په دربار رسالت کښې وليدو چه صحابه کرام دربار کښې حاضر وو ليکن په مجلس کښې خاموشی وه داسی معلو ميدو چه دکوم راتلونکی انتظار وو، شامی بزرګ بارګاه رسالت کښې عرض وکړو:حضور زما موراو پلار دپتا قربان شی دچا انتظار دی؟ سيد عالم ارشاد اوفرمايل مونږه داحمد رضا انتظا ر کوو .شامی بزرګ عرض وکړو حضور!احمد رضا څوک دی؟ ارشاد وشو هندوستان کښې دبريلی اوسيدونکی دی هغه شامی بزرګ مولانا احمد رضا په تالاش کښې هندوستان ته راغلی کله چه بريلی شريف ته راورسيدو نو پته ورته ولګيده چه دهغه عاشق رسول وفات هم په دغه ورځ (يعنی ۲۵ صفرالمظفر۱۳۴۰) کښې شوے ووپه کومه ورځ چه هغه خوب کښې سرکار عالی وقار دا خبره اوريدلی وه چه زمونږه احمد رضا ته انتظار دے (سوانح امام احمد رضاص۳۹۱) دالله د په هغوی رحمت وی او دهغوی په صدقه دزمونږه بي حسابه مغفر ت وی.

يا الٰہی جب رضاؔ خوابِ گراں سے سر اٹھائے
دولتِ بيدارِ عشقِ مصطفٰے کا ساتھ ہو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

دسنتو سپرلي

الحمد لله عَزَّوَجَلَّ تبليغ قرآن وسنت عالمگير غير سياسي تحريک دعوت اسلامي په خوشبوداره خوشبوداره مدني ما حول کښ په کثرت سره سنتو نه يادولي او خودلي شي دهر زيارت په ورخ دمابنام لمونځ نه پس په خپل ښار کښ کيدونکي ددعوت اسلامي هفة واره دسنتو نه ډکي اجتماع کښ دټو لي شپي تيره ولو مدني التجا ده دعاشقان رسو ل مدني قافلوکښ دسنتو دتر بيت دپاره سفر او روزانه فکر مدينه ذريعي سره دمدني انعاماتو رساله ډکول خپل تز دی ذمه دار سره جمع کول خپل معمول جوړ کړی اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ددی په برکت سره پابند د سنت جوړيدو دگناهونونه دنفرت کيدو او دايمان دحفا ظت کيدو به مو ذهن جوړ شي .هر اسلامي ورور دی دا ذهن جوړ کړی چه ماله دخپل ځا ن او دټول جهان دخلقو داصلاح کوشش کول پکاردي .اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ دخپلي اصلاح دپاره په مدني انعاماتو عمل کول اودټولي دنيا دخلقو داصلاح کوشش کولو دپاره مدني قافلو کښ سفر کول اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ۔

مكتبة المدينه (دعوت اسلامي)
فيضانِ مدينه، محله سوداگران، پراني سبزي منڈي، باب المدينه (کراچي)
021-34921389-93 Ext: 2634
Web: www.dawateislami.net / Email: ilmia@dawateislami.net